# (ث) برخه: د مزرعه ای(کرهنیز) نباتاتو تولید(محصول)

## لومړی لوست: غنم

## د غنم کرهنه (بذر یا کښت)



# اصطلاحات




Microsoft.com

- **Durum** د غنم يو ډول (نوعه)
- **Semolina** خچکي يا سبوس لرونکي اوړه
- کلکه دانه
- ميده کيدل
- د پسرلی د موسم غنم
- د ژمی د موسم غنم

# لومړی هدف اوموخه

غنم او د هغه د کاریدنې ځایونه (موارد) معلوم او تشخیص کړئ

# غنم څه شی دی او څنګه کښتی او استفادی وړګرځی؟



- غنم له مهمو غله جاتو څخه شمیرل کیږی دغه نبات د افغانستان په ټولو منطیقو یا ځایونو کی کرل(بذر) کیږی، غنم په ملی کچه یو مهم خوراکی نبات دی په عمومی توګه د انسانانو د استفادی لپاره کرل کیږی.
- ۸۰ سلیزه د افغانستان تولیدات غنم جوړوی

# غنم څه شی دی او څنګه د ګټې او استفادې وړ ګرځی؟

- د غنم رسيدلي (پخه) دانه له ريښو، ډډ،پاڼی او وږی (خوشه) څخه جوړشوی دی
- د غنم وږی، دانه او لڅکه له ځان سره لری.
- د غنم تخم ته دانی وایی د غنم په یوه وږی کی نژدی ۵۰ دانی وی. ۶۸۰۴ دانی یوه کیلو ګرام وزن جوروی.



# غنم څه شی دی او څنګه د ګټې او استفادې ور ګرځی؟




- د غنم دری ډوله وږی موجود دی:

**عادی وږی:** اوږد دي او لښکه لرونکی.

**کلب وږی:** چی لنډ دی او لښکه نلری.

**درم ( Durum) وږی:** چی لښکه لری او دانی یی کلکی وی.

# غنم څه شی دی او څنګه د کټې او استفادی وړ ګرځی؟




د غنم ددانی برخی عبارت دی له:

- Bran يا خچکي (سبوس)
- Endosperm نشایسته (مغزی نسجونه)
- Germ يا جنين
- پوټکی (ځرمن)

# غنم څه شی دی او څنګه د ګټې او استفادی وړ ګرځی؟




- غنم په عمومی ډول د انسانانو د خوړلو او مصرفولو لپاره کرل کیږی.
- کوم غنم چی کرل کیږی ډیری (اکثره) یی اوړه کیږی.

# غنم څه شی دی او څنګه د ګېډې او استفادې ور ګرځی؟



- له غنمو څخه وروسته بیا ډوډی، کلچی، مکروني، شرینی او کیکونه جوړیږی.
- همدارنګه له غنمو څخه د خوړو توکي، الکول او ګلوکوز لاس ته راځی.

# غنم څه شی دی او څنګه د ګټې او استفادی وړ ګرځی؟

- له غنمو څخه د شنو وښو د سرچینی(منبع) په ډول هم کار اخستل کیږی.
- له درمند (حاصل اخستلو) وروسته یی له وښو څخه د علوفی ( د څارویو د خوړولو لپاره کار اخستل کیږی. بیا په نورو هیوادونو کی د مواشیو(څارویو) د بستر جوړولو لپاره ترینه کار اخستل کیږی.



غنم رسيدلي يا پوخ نبات



# دوهم هدف او موخه

دهغه ساحو او ځایونو معلومول په کوموکښی چی غنم کرل(بذر) کیږی.

# غنم چیرته کرل(بذر) کیږی؟

- د ژمی د موسم غنم په عمومی توګه په سړو ځایونو کی کرل کیږی، ولی د اوړی د موسم غنمو کرل هم په سړو ځایونو کی دود لری.
- دوه ډوله غنم موجود دی، پسرلنی ( د پسرلی دموسم) غنم او اوړنی ( د اوړی موسم)غنم دغه ډولونو د کښت یا بذر د وخت په اساس سره توپیر او فرق کوی، له دی څخه معلومیږی چی غنم چیرته کرل کیږی.

# غنم چیرته کرل(بذر) کیږی؟

- د پسرلی موسم غنم د پسرلی په موسم کی کرل(بذر) کیږی د اوړی په موسم کی وده او نمو کوی او د منی د موسم په لومړیو وختو کی پخوالی ته رسیږی.
- ژمنی غنم د منی په موسم کی کرل(بذر) کیږی، د ژمی په اوږدو کی ښه نیسی او د پسرلی په موسم کی په چټکتیا سره وده او نمو کوی.
- د افغانستان ۹۰ سلیزه غنم ژمنی او ۱۰ سلیزه یی د پسرلی د موسم غنم تشکیلوي.

# دریم هدف او موخه

دغنمو بیلابیل ډولونه بیان کړئ

# د غنمو کوم بیلابیل ډولونه موجود دی؟

- کولای شو غنم د کښت (بذر) دوخت، رنګ او د دانی د کلکوالی او نرموالی په اساس طبقه بندی کړو.

**د وخت په اساس طبقه بندی:**

ژمنی

پسرلی



# د غنمو کوم بیلابیل ډولونه موجود دی؟

- د رنګ په اساس طبقه بندی:

د سور رنګ دانه لرونکی غنم.

د سپین رنګ دانه لرونکی غنم.

- د کلکوالی او نرموالی په اساس طبقه بندی.
- ددانې نرموالي ، کلکوالي، رنګ او موسم ځانګړتیاو نه په کتېه اختسلو سره کوالي شو د غنمو د ډولونو محدوده لمن د دوه رګه
- کولو له لاري پراخه کړو (Hybrid)

# د غنمو کوم بیلابیل ډولونه موجود دی؟

- دتخم رنګ، د غنم رنګ سپین او سور وی
- ددانی کلکوالی د غنم د آندروسپرم(مغزی نسجونو) د نرمښت او پستوالی څخه عبارت دی.
- غنم په نرمو او کلکو ډولونو باندی طبقه کیږی.

# د غنمو کوم بیلابیل ډولونه موجود دی؟

- له نرمو غنمونو څخه په عمومی توګه د کلچو او کیکونو په جوړولو کی کار اخلی ځکه له داسی غنمو څخه ډیر میده میده اوړه لاس ته راځی.

# د غنمو کوم بیلابیل ډولونه موجود دی؟

- له کلکو غنمو څخه زیږه اوړه لاس ته راځی چی دارنګه اوړه د ډودی لپاره کارول کیږی.
- **درم** durum غنم له کلکو غنمو څخه عبارت دی چی په عمومی توګه د سیمولینا په تیارولو کی ورڅخه کار اخلی.
- سیمولینا هغه دانه لرونکی اوړه دی چی د مکرونیو د برابرولو لپاره ورڅخه کار اخستل کیږی



## دغنمو تصنيف يا طبقه ويشنه

### د کښت یابذر وخت\ موسم

- اوړي
- ژمي

### رنګ

- سور
- سپین

### کلکتوب اونرمښت

- کلکتوب
- نرمښت

# ځلورم هدف او موخه

د غنمود توليد (محصول) کرهنيزى لارى او عملکردونه (ځانګړي کړني) بيان کړئ

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی ځانګړي کړني یا  عملکردونه وجود لری؟

- کرهنیزي ځانګړي کړني (عملکردونه) عبارت له هغو طرزالعملونو څخه دی چی د نبات د تولید په باره کی ورڅخه کار اخستل کیږی.
- کرهنیز عملکردونه د سرو، سپینو، کلکو، نرمو، ژمنیواو پسرلنی غنمو  لپاره یو شان دی خو د ځای د  اقلیم (اوبو او هوا) په اساس توپیر کوی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- نوعه د نبات له ذره بینی موجوداتو څخه عبارت دی چی کرل (بذر)کیږی او خپلی ځانګړتیاوی د تکثیر او تولید (دبیا زیږوني) په وخت کی د دوهم ځل لپاره ساتی.
- د غنمو د کرلو په وخت کی د نوعی (ډول) انتخاب او غوره کول باید د اقلیمی (اوبه او هوا) تطابق، حاصل، دناروغیو او افاتو په وړاندی مقاومت اوپاښت، دنبات لوړالی او د ځمنی شرایطو په نظر کی نیولو سره ترسره وشی

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- د غنمو کامیابه (بریالی) پایله نیغ په نیغه د ښه او صحیح بذر(تښت) نتیجه بلل کیږی.
- دری لاملونه (عاملونه) د کښتنیتپه، د بستر ( د تخم د کرلوپټئ) چمتو کول،او د تخم شندنی اندازه او ژوروالی پوری اړه لری

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهینزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- د کښت یا بذر نېټه د غنم د موسم ، ژمی او پسرلی په اساس تعینیدلاي شي
- ژمنی غنم د منی په موسم کی د ژمی د موسم په پیل څخه کرل کیږی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- غنم باید له مخکی نه چمتو شویبستری(بستر) کی وکرل شی.
- بستر یا هغه ځای چی غنم په کی کرل کیږی د خاوری په اړولو او هوارولو سره چمتو کیدای شی دغه کار باید اسباب سره ترسره شی.
- د نړی په ځینو برخو کی د سترو علمیاتو د اجرا کولو لپاره ځمکه په (اسکنه) سره اوړی او بیا وروسته ډلوټو د ماتولو په موخه ماله کیږی.
- دواړه لاری (میتودونه) د ځمکیلوټی کموی او د تخم بسترښه چمتو کوی. البته د ځمکی اړول مخکی له بذر څخه د هرزه وبښو د ودی او نمو په کمولو کی مهمه ونډه لری.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- غنم باید په نمناکه (مرطوبه) خاوره کی وکرل شی او تخم باید دښاخی په وسیله په مساویانه ډول تیت او وشیندل شی.
- په سترو او لویو ساحو کی د بذر له ماشین څخه کار اخستل کیدای شی ترڅو تخم په ټولو برخو کی یو شان وشیندل(بذر) شی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهینزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- د بذر یا کرهنی ماشینونه نژدی ۱۵,۲۴ سانتی متر له یو بل څخه جلا دی او کولای شی له ۹,۱ څخه تر ۴۵,۴ کیلوګرامه تخم په هر ۰,۴ هکتاره ځمکه کی وکری (بذر) کړی. نیمه کیلو د غنمو تخم کیدای شی له ۱۲۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰ تخمونه وی.



# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی لاری او عملکردونه وجود لری؟

- د غنمو یو روغ او سالم نباتبنسری (کود) او د pH مناسبی اندازی ته اړتیا لری.
- د ځمکی ازموینه د pH د اندازی معلومولو کی کار اخستل کیږی.
- غنم په هغه خاوره کی لربښه نمو او وده کوی چی لرونکی د اسید وی، د مغذی توکیو د استعمال زمان ددغو توکیو د استعمال د اندازه په اهمیت پوری اړه لری
- نایتروجن باید د غلو له کښت او ودی څخه مخکی استعمال شی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهینزی ځانګړني کړني (عملکردونه) وجود لری؟

- دغنم نبات د یو شمیر آفتونو په وړاندی قرار لری.
- د غنمو عادی ناروغی عبارت دی له فنجي، د ریښی ورستیدل، تورکـۍ او پوستک څخه.
- د غنمو عادی آفتونو عبارت دی له ملخ، آفات، سپګـکئ
- کرهنیز ځانګـړي کړني (عملکردونه) له تخم نه‌ښه استفاده او د آفاتو ضد درمل کارول دی. کیدای شی د غنمو د آفتونوکنټرول او کمولو لپاره ورڅخه کار واخستل شی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهینزی ځانګړي کړني (عملکردونه) وجود لری؟

- د غنمو راټولول (حاصلګیری) د وړی له پخیدو څخه وروسته کیږی.
- . غنم باید مخکی له **(شترینګ)** څخه وریبل شی.

**شترینګ** هغه مرحله او پړاو دی چې په هغه کی پخی دانی له وړی څخه تویږی.

- غنم د ریبلو په وخت کی باید ۱۲,۵ سلیزه نم (رطوبت) ولری. هغه غنم چی په ډیره فیصدی کی ریبل کیږی کیدای شی چی هغه په مصنوعی ډول وچ شی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی ځانګړي کړني (عملکردونه) وجود لری؟

- تاسو کولای شی پخوانی د ازموینی میتود غوره کړی او د زړی  د کلکوالی او نرموالی اندازه په غاښ سره معلومه کړی  تر څو ځګـنده شی چی آیا غنم لو (ریبلو) ته چمتو دی که نه! که چیری غنم کلک وی نو د ریبلو لپاره چمتو دی او که نرم او لامده وی نو د ریبلو لپاره چمتو او تیار ندی.

# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهنیزی څانګـړي کړنـي (عملکردونه) وجود لری؟

- د غنمو د ریبلو لپاره له لور (داس) څخه کار واخلئ او غنم په نژدي (حد اقل) دوه یا دري اینچه له ځمکي څخه پورته وریبئ ، غنم د کودو(ګیډیو) په شان څلي کړئ او هره کوده په یوه رسۍ سره کلکه وتړئ بیا دغه کودي ګـیډئ) په ولاړه (عمودي) توګـه په یوه داسي ځاي کي سره غونډ او کوټه کړئ چي له لنده بل (رطوبت) څخه په امن کي وي. غنم له میده کیدو او بادولو څخه مخکي بایدښه وچ شي هغه ددي لپاره چي دانه له وښو څخه ښه جلا شي د درمند میده کول او بادول په عنعنوي توګـه د باد و ګـیدو په وخت کی ترسره کیږي ، هغه داسي چي درنی (ثقیلی) داني او غنم لاندي توییږي وښه اوخاوري د باد په وسیله سره لري کیږي.

# دغنموڭيۇى(كودي)



# د غنمو د تولید لپاره کومی کرهینزی ځانګړي کړني (عملکردونه) وجود لری؟

- په سترو کرهنیزو عملیاتو کی د ریبدلو له ماشین څخه استفاده اخستل کیږی چی وښه میده کوی او دانی له وښو څخه جلا کوی

